# په افغاني ټولنه کې ناوړه دودونه ورځ تربلې زوراخلي

په افغاني ټولنه کې ناوړه او غیر اسلامي دودونه دومره زوراخیستي، چې بیوزله کورنۍ هم دیو نوي دود په رامنځته کېدو کې برخه اخلي، دغه ناوړه دودونه اوسمهال دافغانستان لرو پرتو سیمو ته هم رسېدلي دي. ډېری وګړي دخوښیو په محفلونو کې یاد دودونه ترسره کوي، پدې هم پوهېږي، چې د اسلام له نظره ناوړه کړنې ناروا او د ډېرو بې ځایه لګښتونو لګول اسراف بلل شوي، خو بیا هم دځینو ناسمو رقابتونو، تربګنیو او د نوم دلوړولو په موخه دغه کړنې ترسره کوي.

اسلام، چې په آسماني ادیانو کې جامع او کامل دین دی، هغه دودونه، یې چې د انساني ټولني بقا پکې نغښتې وي او په ګټه یې وي، تایید کړي دي او پر عملي کولو یې ټینګار کړې. د بېلګې په توګه واده کول د ټولو انسانانو لپاره یو نېک ترون بلل کېږي او د انسانانو د ژوند د نېکمرغۍ یو لامل دی، چې انساني ژوند ته بقا ورکوي. خو په هغه صورت کې چې د اسلامي قوانینو پر بنسټ باید پلي شي.

اقتصادي کارپوهان په دې اند دي؛ که چېرې په هېواد کې ولسونه د زیاتو بې ځایو مصرفونو او بې دلیلو فرهنګونو څخه ګټه وانه خلي، نو د ډېرو افغانانو اقتصادي وضعیت کې پرمختیا او د یو کال په کورني لګښتونو کې کره بسنه کېدای شي.

له بل پلوه دیني عالمان هم په ډېریو مجلسونو، محفلونو او آن په رسنیو کې په کراتو کراتو دا ویلي چې اسلام دهغه څه مخنیوی کوي، چې بې ګټې او دخلکو په تاوان تمام شي.

نو څرنګه چې موږ مسلمانان په دې باوري یو، چې هرهغه عمل کومه شرعي ضیغه ونه لري، نو بیا کارول یې دځان هلاکول او یا داچې ګټه ترلاسه کړي، په آخرت کې ددغو ناوړو کړنو پوښتنه ورڅخه کېدونکې ده.

سره له دغو ناوړو عملونو چې دهېواد په ټولو ولایتونو کې په بېلابېلو بڼو ترسره کېږي، خو بیا هم دقومي شوراګانو لخوا ورباندې بندیزونه لګول شوي، خو ډېر کم وخت دعمل جامه اغوندي، وروسته بیا هماغه زړه په زړه خبره ده، ولې غوځ بندیز پرې نه عملي کیږي، ځو دهر ټبر وګړي د دغو ناشونو عملونو څخه لاس واخلي.

دنا فرهنګو کړنو بندیز دحکومت اویا دقومي مشرانو لخوا درې ګټې ولسونو ته رسېږي. لومړی دا چې ولسونه دخپل کورنۍ د سمبالښت په موخه پیسې سپما کوي. دویم دشریعت احکامو باندې ځان برابر وي او دریېم د کلیو په کچه دنوم دلوړوالي او دتربګنیتونو ځای به د یووالي لاره غوره کړي او دبې اتفاقۍ او دښمنۍ څخه په امن کې وي. افغانستان یو له هغو بې وزلو هېوادونو څخه دی، چې اقتصادي اړتیاوې یې له بهرنیو ملکونو څخه پوره کېږي. همدارنګه دامنیتي وضعیت له پلوه دهېواد په دننه کې دکار اوبار نشتون له امله ډېري ځوانان بهرنیو ملکونو ته داقتصادي بسیا لپاره تللي، ترڅو دیوې مړۍ ډوډۍ څښتنان شي او ځیني خو یې دتللو توان هم نلري، ځکه په هیواد کې د اقتصاد د کچې ټیټوالی او د کار و بار نشتون وګړي له ډېرو اندېښنو سره مخ کړي دي، چې په دې اړه باید دولت افغان وګړوته دامکاناتو دبرابرولو په موخه هراړخیز اقدام ترلاس لاندې ونیسي.

ولې بیاهم افغانان دخپل سرټمبګۍ نه؛ لاس نه اخلي او دناوړه دودونو په عملي کولو کې له هریوه نه اوچت لاسونه وړي. که دغه دودونه همداسې پراختیا ومومي، نو کېدای شي، چې ډېری خلک به داقتصادي بحران سره مخ کړي.

ناوړه دودونه؛ په وادونو کې د ډېرو لګښتونو، دلوړ ولور اېښودنه، ورسره په وادونو کې ساز او نڅا لپاره دهنرمندانو غوښتنه، شیرین خوریو کې دناوې کورته د کار داسبابو یو بشپړ سیټ وروړل، دخپلو او خپلوانو څخه د سرو زرو ګوتې یا لښتیو اخیستل او داسې نورې ناوړه کړنې دي، چې یو کور ودانېږي، ورسره نور سل کورونه ورانېږي.

له ودونو پرته، په ځینو ځایونو کې د مړي کورکې هم داسې کارونه ترسترګو شوي، چې ښځینه وو ته دسخاد ورکولو ترڅنګ، ټکري، آینې او ګمنځې ورکول کیږي او دخیرات په نوم د ډیریو خلکو بلنه دا هغه څه ګڼلای شو، چې په ښکاره ډول خلکو ته ځان ښودنه او داچې یو څوک ثواب ترلاسه کړي، ځان په ګناهونو کې ډوبوي.

دناوړه دودونو نورې بېلګې په یو کور کې د نوي ماشوم زېږېدل، هغه ته د پخوا په څېر چې یوې ناوې لپاره کور وروړل کیده اوس نوي زېږېدلي ماشومانو ته په هماغه اندازه کور وروړل کېږي.

په ډېریو ځایونو کې دمختلفو نومونو په ترسره کولو د مېلمستیاو جوړول، دپوهنتونو څخه فارغیدل هغوی لپاره لمانځ غونډې جوړول او داسې نورې په لسګونو کړنې دي، چې په افغاني ټولنه کې یې دود موندلی.

راځئ چې دناوړه دودونو په ځای د اسلام په چوکاټ کې هغه کړنې ترسره کړو، چې نه به تاوان موږ ته ورسېږي او نه هم خپل افغاني دود له منځه یوسو او په ساتنه او پراختیا کې یې خپل نوي نسل ته هغه څه پرېږدو، چې دوی په افغاني فرهنګ او کلتور باندې وویاړي او دې سره به مو د خپل هېواد لپاره ستر او مثبت ګامونه پورته کړي وي او د یووالي او هوسایني څلی به مو پورته شي.

**لیکنه : شیرمحمدامیني ستانکزی**

# چطورمیتوانیم یک انسان موفق باشیم

**اکثرمردم فکرمیکنند که برای موفقیت درزندگی بـه مواردمثـل پول،امکانات،واسطه... نیاز اساسـی دارنـد،اما دراصـل ایـن طرزدید تاحدی اشتباه است که خودرا منحصربه آن نماییم. انسان های موفق فقط راز و رمزهای موفقیت را درک کـرده‌انـد و در زندگی از آن استفاده کرده اند، زمانی میتوانیم یک انسان موفق باشیم که هدف خلقت را بشناسیم وازخود بپرسیم که مه کی هستم؟ ازکجا آمده ام؟ وبه کجا میروم؟**

**خداوندج درقرآن عظیم الشان می فرماید: ترجمه(و من جـنّ و انس را نیافریدم مگر برای اینکه مرا به یکتایی پرستش کنند) آیه 56 سوره ذاریات. ذات اقدس الهی هدف خلقت انسان را بکلـی درکلام پاک اش بیان نموده است واگرهرانسان دردایره اسـلام مطابق رهنمودهای احکام قرآنی وسنت نبوی(ص) عمل کننـد، بعید نخواهد بود که هیچگاه در انحراف، پریشانی وخسران دنیوی واخروی مبتلانخواهد شد، بدیهی است که دین مبین اسلام انسان هارا اشرف مخلوقات خلق کرده است وبرای موفقیت هـای آنهـا درزندگی رهنمودهای جامع وکامل را ارایه نموده است.**

**دردوران زندگی هرانسان با فرازونشیب هـای همچوکامیـابی، ناکامی، خوشحالی، غـم وصـدها مـوارد دیگربرمیخـورد کـه درحقیقت همه این ها انسان را به پختگی وکمال میرساند به شرط آنکه هدفمند درزندگی پیش رود، همه انسان ها خصوصاً درایـام جوانی مستلز م این میباشند که برای آینده خود زندگی خوبی را رقم زنند اما برخی آنها درلابلای کثرت اهداف مضطرب میباشند وهمین علت باعث دگرگونی درسرنوشت آنها میگردد.**

**هرفرد جهان را نظربه ایدولوژی خویش میبیند وبا تاثیرپـذیری ازمحیط که درآن زندگی میکند زندگی خودرا ادامه میدهند، اما برای موفقیت بیشتر درزندگی باید درقدم اول هدف خـویش را مشخص کنیم وبرای رسیدن به هدف ازامکانـات دسـت داشـته خویش استفاده کنیم وبه سوی آن ولوکه بارها موانع ومشـکلات مانع سد راه مان گردد حرکت کنیم، درانتخاب هدف سعی کنیم به چیـزی کـه زیـاد علاقـه ودرآن مهـارت کامـل داریـم بیشتـرتمرکزنماییم.**

**هرفرد درزندگـی برای رسیدن به خواسته هایش با پرابلم هـا برمیخورد اماهمین مشکلات انسان را قوی میسازد وبـه سـمت پیروزی بزرگ هدایت مینماید، دیگراینکه کاری را کـه انجـام میدهیم باید با شوروشوق وازصـمیم قلـب آن را انجـام دهـیم هیچگاه دلسردی ازخود نشان ندهیم، به این حقیقت همه ما پـی برده ایم که هیچ کس برای ما خوشی به ارمغان نمی آورد بلکـه خودمان باید خوشحالی وسرور به ارمغـان بیـاوریم تـا درراه رسیدن به هدف مشکلات را نیز عبورنماییم.**

**پیروی ازاحکام دین مبین اسـلام،اعتماد بـه نفس،باورمنـدی، صبروحوصله،استفاده ازتجارب دیگران، مطالعه، خود را من قوی فکرکردن، دوری ازکلمه من ضعیف، عدم احساساتی شدن، خشم خود را کنتـرول کردن،چـاره سـنجی بـرای حـل مشـکل، تصویردرست ازآینده روشن، درنظرگرفتن منافع دیگران همـه این موضوعات دررسیدن به اهـداف والا مـارا کمـک میکننـد ومیتوانیم یک انسان قوی باشیم.**

**نافرمـانی ازاوامرخداونـد (ج)، نـا فرمـانی ازاوامررسـول الله(ص)، ترس، خشم، دلبستن به متـاع دنیـوی، خواهشـات نفسانی وشهوانی انسان را ازجاده انسانیت خارج میکند وآنـرا ضعیف وذلیل میگرداند،کسی که اطاعت کرد ازاوامردین اسلام انسان قوی وبه درجات علیا نایل میگردد وکسی که نافرمانی کرد به آنها پائین ترین درجه ذلت که حتی ازچهارپایان بـد تراسـت میرسد ویک انسان کاملاً ضعیف میباشد.**

**هرببیننده قله های کوها را ازدوربسیارزیبا میبینند اما دررسیدن به آن باید ازسختی ها، سخره ها وگرمی سوزان گذشت تا به آن زیبایی قله رسید، همانا هدف زندگی اطاعات ازاوامرخداونـد (ج) میباشد، درزندگی همین طوربایـد عـزم واراده متـین را مطابق به ارشادات دین مبین اسلام سرمشق قراردهیم وبه شـکل آگاهانه حرکت نماییم وهیچ گاهی برابر سختی ها سرخم نه نمایم ونقاط قوت خودرا بشناسیم ونقاط ضعف را اصلاح نمایم تا قـوت خودرا به اثبات رسانیم ودرزمره موفق ترین انسان ها قرارگیریم.**

**نویسنده: محمدزاهد(سلطانی)**

# اهمیت امنیت دراسلام

ازآنجای که اسلام خود، دین امن وامان است، امنیت دراین دین مبین وانسان ساز از ویژه گی های خاص وشامخی برخورداربوده وحایز اهمیت و ارزش بسزای درهربعدی از ابعاد زندگانی بشراعم ازبعد فردی واجتماعی، سیاسی واقتصادی، کلتوری وفرهنگی، قضائی وتعبدی و... میباشد. طوریکه ازقدیم الایام مهمترین وبنیادی ترین نیازمندی جامعه بشری را امنیت تشکیل داده و دراین راستا هیچ کسی شک وتردید ندارد که امنیت نعمتی است بی بدیل واز دغدغه های مهم هرجامعه محسوب می گردد.

امنیت ازنظر بعضی از دانشمندان چون اکسیجن برای جامعه ضروری بوده وبه همین دلیل اولیای امورحاضرهستند که هزینه های گزافی را دراین رابطه متحمل شوند، زیرا بسیاری از کارهای فکری وفرهنگی مبتنی بروجود امنیت شده است به تعبیردقیق ترتمام زیرساخته های تربیتی واخلاقی واقتصادی متوقف برهمین مسئله بوده وتازمانی که این موضوع به نحو قابل قبول درجامعه برقرار نشود، انتظارپیشرفت هیچ گونه عمران وبازسازی، ترقی وتعالی رانباید داشت.

بناً در راستای رشد وتقویه وایجاد امنیت پایه دار وگسترش هرچه بیشترآن احاد مردم ملت ودولت وظیفه دارند ونمی توانند خود رانسبت به موضوع امنیت بی تفاوت بگیرند، زیرا امنیت گذشته ازاین که فی نفسه یکی از ضرورت های مبرم جهان بشریت بشمار میرود، بلکه عامل مهم برای رشد وتوسعه امورفرهنگی، اجتماعی، سیاسی، اقتصادی، عمران وبازسازی مادی ومعنوی یک کشورشده میتواند.

ازاینرو اسلام عزیز عملاً به امنیت اهمیت قابل ملاحظه قایل شده ودرقسمت حرمت وتامین امنیت جان ومال، ننگ وناموس، حیثیت وآبروی پیروان خود حفاظت وحراست نموده، توام باحفاظت وحراست از تمام حقوق حقه همه اقلیت های که درقلمرو دولت اسلامی زیست می نمایند، بادرنظرداشت توجه خاص به احقاق حقوق و وجایب انها، گروه وممالک متحابه که با ایشان تعهد وپیمان دوستی چه امنیتی باشد، اقتصادی وتجارتی وچه فرهنگی وکلتوری وعمران بازسازی، بسته است.

یقیناً یکی ازجمله الطاف ونعمات بس بزرگ الهی، وانعامات بارز ومحسوس پروردگار جهانیان همانا برخوردار بودن انسان ازنعمت آرامش وامنیت درشهر ودیاروقلمروهای مسکونی واحساس نمودن فضای استقرار وآرامش درمابین تمام باشندگان، دوستان وبرادران است.

خداوندا! چقدر نعمت های بس بزرگی موجوداند که تعدادی زیادی ازمردم ازشکرآن غافل بوده، قدر ومنزلت آن راندانسته اند، حتی مردمان عاقل وهوشیار وچیز فهم چه رسدبه عامه مردم.

خداوندا! عدم موجودیت امنیت وآرامش چه فتنه های بس بزرگ وانواع فساد را درپی داشته و در حصول وموجودیت آن چقدر خیر وبرکت ونعمات توام با اطمنان خاطرحاصل میگردد.

خداوندا! دراثر فقدان ونبود امنیت چقدرقلب های صحتمند شگافته شده وجگر های سالم پاره پاره شده است، همچنان دراثر نبودامنیت خون ها به ناحق ریختانده شده وچقدر انسان ها ونفس های پاک کشته شدند، دراثرنبود امنیت چقدر شرف حیثیت وعزت وحرمت انسانها پای مال گردیده، وچقدرفامیل ها ازجای های خویش بیجا وپراگنده شدند و دراثرنبودامنیت چقدر خانه های آباد ومسکونی منهدم و ویران شدند، دراثرنبود ویا مختل شدن امنیت چقدر مصیبت ها، درد و آلام، رنج وتکلیف وحوادث بزرگ وناگوار رخداده است ودر اثرنبود امنیت چقدر اطفال یتیم وزنان بیوه وبی سرپرست شدند ودر اثرنبود امنیت چقدرضرر وخساره به اموال تجارتی واردگردیده است وچقدر اجناس وکالاهای تجارتی ضایع وازبین رفته است.؟!

درصورت عدم موجودیت آن مصالح بنده گان خدا معطل قرارداده می شود، قیمتی وگرانی به بار می آید، احتکار وذخیره اندوزی توسعه می یابد، هرج ومرج وبی بندوباری عام می گردد، زمینه وساحه زیست وزندگانی برای مردم ضیق وتنگ می شود.

اگر امنیت ازبین برود، درآن صورت شهرها خراب و ویران شده کنترول وجلوگیری عناصر جنایت پیشه مشکل گردیده و درنیتجه عملکرد مجرمین وعناصرجنایت کار، هر نوع فساد وبی بندوباری، فتنه ها وانحرافات، ترس و وحشت درمیان اقشار مردم رشد نموده و دربخش تجارت وبازرگانی سطح واردات وصادرات تجارتی متوقف، اموال و دارایی مردم مورد سلب وغارت قرار می گیرد.

هکذا با ازبین رفتن امنیت، هر نوع جرم وجرایم انتشار یافته حوادث وشرایط ناگوار به میان آمده تا اندازه ای که درج آمار وارقام مجرمین وجنایتکاران مشکل می گردد.

با ازبین رفتن امنیت منکرات و رزائل اخلاقی بیشتر گردیده معاصی وگناهان، موبقات ومهلکات ازدیاد رفته ومردمانی فرومایه، کودن وبی خرد برضد شریعت ونظام پروردگار گستاخی خواهد کرد اگرامنیت ازبین برود، درآن هنگام راه های رشد وترقی مسدود گردیده وسطح بیکاری بالا رفته، عقب ماندگی، فقر ومشکلات اقتصادی، تنبلی وعقب ماندگی درتمام شون حیات بشر اعم از امورصحت وسلامتی، تعلیم وتعلم، سیاسیت واقتصاد را فرا می گیرد.

واخیراً اگرامنیت ازبین برود، درآن وقت دولت ضعیف وناتوان شده، نظر وچشم، زبان ودست عناصرمغرض واستفاده جو، حریص وآزارمند بطرف آن درازشده وافراد نیرومند وقوی خواست وخواهشات خویش رابالای آن نوع حکومت به خوبی قبولانده می توانند.

یقیناً امن وامنیت چیزی است که انسان بواسطه آن قیمت وارزش نعمت، لذت حیات وزندگی طعم صحت وسلامتی راکه ازآن برخورداراست به خوبی درک وحس کرده میتواند.

اما درصورت عدم موجودیت امنیت انسان همیشه احساس خوف وترس کرده وشخص خائف وترسوهرگز قیمت نعمت مال رادرک وحس کرده نمی تواند، اگرچه غنی همچنان شخص خائف وبیمناک، قدروقیمت نعمت، صحت وسلامتی را هرگز درک کرده نمی تواند اگرچه فرد قوی ونیرومند هم بوده وباشد.

هکذا شخص خائف وبیمناک هرگز قدرنعمت اهل وعیال و اولادهای خود راحس کرده نمی تواند، اگرچه همه آنان را دراختیار داشته باشد.

مهم تر ازهمه، ذوق ولذت عبادت وپرستش ذات اقدس الهی را درهمچو حالات فقدان امن وامنیت و درحالت ترس وخوف حس کرده نمی تواند.

**ترتیب کننده مطلب: مدیریت ارشاد ودعوت؛ ریاست حج و اوقاف لوگر**

# ځوانان دې له پامه ونه غورځول شي !

دامنیت ټینګښت په هېواد کې پرمختیایي او اقتصادي پروژو لپاره لاره هواروي، چې له دې کبله هغو ځوانانو ته دکار زمینه برابرېږي، کوم چې له بېکارۍ څخه سر ټکوي. دځوانانو لپاره کار او دنده؛ د دوی په اقتصادي او فکري ځواکمنتیا کې مهم رول لوبولای شي او د ناوړه کړنو مخنیوی او دهیواد دآبادۍ او پرمختګ لپاره لارې پرانیزي.

خو له بده مرغه ویلی شو، چې له بې وزګارو ځوانانو سره بهرنیو هېوادونو ته د تګ فکر او سوچ ډیر دی، خو دوی به ګرم هم نه بولو، ځکه په افغانستان کې دکارنشتون او اقتصادي کمزورتیا هغه څه دي، چې هېوادوال یې له بیوزلۍ سره مخ او دیوې مړۍ ډوډۍ دپیداکولو لپاره بهرنیو هېوادنو ته غیر قانوني تګ کوي.

په هېواد کې بې وزګاره ځوانان؛ له دولت څخه د کارموندنې غوښتنه کوي، وایې چې دولت دوی ته دکار کولو آسانتیاوې په لار واچوي، خو که دکار شتون په هېواد کې نه وي، نو ځوانان دې ته اړ کېږي، چې هېواد پرېږدي، څو د خپل ژوند چارې او اقتصادي ستونزې له بهرنیو هېوادنو څخه پوره کړي.

په هېواد کې شته بې کاري، نا امني او بهرته دځوان نسل تلل؛ هغه څه بولو، چې ولس د دغو چارو پړه په دولت اچوي، ځکه دولت کولای شي، چې دا ډول نا قانونه سفرونو مخه ونیسي او ځوانانو ته په اقتصادي برخو کې کاري پروژې په لاره واچوي او ځوانان له پامه ونه غورځوي.

افغان ولس وایي، که چېرې دغه بحران لا پسې وغځېږي، نو ډېری ځوانان به بیاځلي مهاجرتونو ته مخه کړي. نو اړینه یې ګڼو؛ چې دولت له هرڅه نه وړاندې ځوان قشر ته په تولیدي، صنعتي او اقتصادي برخو کې اوچت ګامونه واخلي.

ولس د سولې تږی دی، دوی وایي، چې سوله دهېواد په ګوټ ګوټ کې ټینګه شي، چې ټولو هېوادوالو ته دکارکولو زمینه او دخلکو لپاره د ښه ژوند آسانتیاوې برابرې شي. دولت هم د دې پروسې لپاره کار کوي، کېدای شي، چې دخلکو په ذهن کې دغه خبره زیاته ښکته او پورته شي، چې دولت ۱۷ کاله کېږي، چې د سولې نارې وهي او د سولې څرک لا تراوسه نه لیدل کېږي.

باید وویل شي، چې یوازې دولت په دې کار کې ښکېل نه دی، د ولس همکاري په ګډه د سولې پروسې لپاره کار ترسره کول د دولت او ولس ترمنځ اعتماد دیوبل سره مرسته کولای شي، چې د دوی باوري اړیکې لا ټینګې کړي. داچې په ځینو کلیو او بانډو کې وسله والې ډلې اوسي، د ټولنې وګړي دغو ډلو ته دقناعت له لارې دهېواد دآبادۍ، سوکالۍ، یووالي او سولې پروسې ته دې رامات کړي.

ځوانانو ته د ویلو ده، چې خپل هیواد پرېنږدي، له صبر او زغم څخه کار واخلي. همدغه ځوانان دي، چې دهېواد په ودانولو او رغونه کې رغنده ګامونه اوچتولای شي.

دهمدغو ځوانانو پرمټ دهېواد پرمختګ او جوړونه ترسره کېږي، که چېرې ځوانان بهرنیو هېوادونو ته ځي، نو افغانستان به چا نه د جوړولو تمه ولري. ځوانان دې خپلې متې راونغاړي، دسولې لپاره د دولت سره اوږه پر اوږه یو ځای کار وکړي، چې همدوی ته د کار کولو ښه زمینه برابره او هم هیواد دپرمختللو او جوړولو لوري ته مخه وکړي.

یوه ټولنه هغه وخت د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېدلای شي چې ځواکمن او با مسوولیته ځوانان ولري، ځکه چې ځوانان د ټولنې مهم عنصر شمېرل کېږي. ځوانان کولای شي د اسلامي شریعت په رڼا کې د مثبت ذهنیت په درلودلو سره هېواد د شته ستونزو او کړاونو څخه د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي، خو هغه وخت چې په ریښتیني توګه خپل مسوولیت ترسره کړي وي او دولت هم باید ځوانانو ته په جدي ډول پاملرنه وکړي؛ ترڅو ځوانانو ته د کار زمینه برابره شي او سربیره پر دې ځوانان هم ژوند ته هیله مند شي او د ناهیلی ټغر د ځوانانو له منځ څخه راټول او کاري فرصت به ورته برابر وي او همدارنګه ځوانان به هم له پامه نه وي غورځېدلي. ناراضه افغانان چې د دولت پرورانده وسلې اخیستي له دولت سره جنګیږي، هغوی دې له دغه کړنو پښیمانه او سوله ئیز ژوند ته دې را وبولي، نو کله چې په هیواد کې ډاډمنه د سولې فضا رامنځته شي هرومرو به دغو ځوانانو ته چې دبېکارۍ څخه په تنګ شوي، افغان دولت په بېلابېلو برخو کې کاري پروژې پلې کړي. ان شاء الله دهغه وخت شاهدان به واوسو، چې هغه ځوانان بهرنیو هېوادونو ته په غیرقانوني توګه تللي دي، بېرته دکار کولو له پاره راستانه او په افغانستان کې به په آرامه او هوسا ډول خپل ژوند وکړي. خو چې دولت ځوان قشر له پامه وانه چوي او په هر ډګر کې ورته آسانتیاوې برابرې کړي.

**لیکنه :اميني**